
بصیرالحق عادل

**د بست کلا ړنګ دېوالونه**




نږدې یوه لسیزه وړاندې چې کله هلمند ته راغلم نو تلوسه مې وه چې بست کلا ووینم، ځکه د دې کلا په اړه مې ډېر څه لوستي وو او په دې خبر وم چې دا ستر کلتوري میراث دی.

هلمند کې نا اشنا وم، د کورنیو د یو شمېر غړو سره د کوچنی اختر په دویمه ورځ دغې تاریخي سیمې ته ور روان شوم، دننه ورغلو د کلا سرته پورته شولو، پنډو پنډو دېوالونو یې ۳۲۰۰ کاله وړاندې د بست وري(دا یو پادشاه وو، د بست کلا هم دده په نوم ده) واکمنی ته بوتلم، د دې کلا تاریخ مې پر فکر وځغلېد، د نوشیروان عادل کیسې مې سترګو ته ودرېدې او امیر کروړ شهامت او عظمت مې د دې کلا له دېوالونو وانګېره.



دا یوازې داسې په نوم کلا نه ده لکه نن سبا چې یوازې نوم پاتې دی، په رسنیو، ورځپاڼو، ویب پاڼو او نورو ځایونو کې پرې ویاړو او. . .

دلته لوی لوی واکمنان تېر شوي دي، دلته افغانان له نړۍ سره جنګېدلي دي، دلته د ننګ، غیرت، عزت، عدالت داسې کیسې خوندي دي چې په اورېدلو یې اوس هم سړی ټکان خوري.

پر تاریخي برخه خبرې نه کوو او نه هم د دغې کلا پر ارزښت غږیږو، ځکه پر تاریخ یې کتابونه ډک دي او پر ارزښت یې هر څوک پوهیږي، رسا خپل مطلب ته راځم:

دغه تاریخي کلا چې اوس یې رنګ دېوالونه د نړېدلو سلګی وهي، خو دلته ویده فرهنګیان یې اواز نه شي محسوسولی، د کلتور ریاست ترې مخ اړولی او ان وزارت هم سترګې پرې پټې کړي دي.

اوه کاله وروسته بیا د رواني اونۍ په پیل کې دغې کلا ته ورغلم. سره له دې چې نږدې یوه لسیزه وړاندې ورغلی وم، د کلا حال تر هغې بدتر شوی وو، شاو خوا یې خپل سري کېندنې شوې وې،

ځنګلوري ځمکې يې غصب شوې وې او سرايونه پرې ودان شوي و او داسې ښکارېدل چې اوس هم دغه تاريخي او لرغوني شتمني د نړېدو، خرابېدو، غصبېدو او ورکېدو له لوی ګواښ سره مخ ده.

نيمه پېړۍ پخوا چې اعليحضرت ظاهرشاه بابا دلته بهرني انجينران راغوښتي وو، نو د هلمند د بست کلا يو شمېر انځورونه يې اخيستي وو، چې کلونه وروسته د بي بي سي ويب پاڼې تر لاسو ورسېدل او خپاره





يې کړل. دوه ورځې وړاندې چې زه دغې کلا ته ورغلم نو دلته د مشهور ششک انځور مې د کلا له سره واخيست، پر فېس بوک مې زما او د بهرني عکاس انځورونه خپاره کړل، د نيمې پېړۍ په توپير دوه انځورونو د ځمکې او اسمان هومره توپير درلوده، توپير يې په څه کې وو؟

نيمه پېړۍ وړاندې اخيستل شوی انځور کې د دغې کلا ډېرې برخې ودانې دي، ششک يې روغ دی، په ليدو يې سړی د خپلې ابداتي شتمنۍ د وياړ ساه اخلي او په دې فخر کولی شي چې موږ هم داسې لرغوني ځايونه لرو چې نړيوالو ته يې د ليدو تلوسه ورکولی شو.

خو اوسنی انځور چې ما پر خپله کېمره اخيستی، لکه له تېزې بمبارۍ وروسته چې څوک د يو ويجاړ ښار ړنګ دېوالونو ته ګوري، په ليدو يې د انسان پر زړه ساړه ننوځي او د خپل کلتور او تاريخي ابداتو د ورکېدو ويره يې زړه نا ارامه کوي.

نږدې دوه کاله وړاندې د هلمند پېژندنې سیمینار کې د بست کلا د ساتنې لپاره یوه ښه طرحه وړاندې شوه او زما خوښه شوه.

د کلتور وزارت یوه استازي وویل: د دې لپاره چې د کلا ساتنه وشي او د سېلانیان ور ډېر شي نو د کلا څنګ ته باید یو «پارک» تفریح ځای جوړ شي، په دې سره به خلک د سات تېرۍ لپاره پارک ته ورځي، د کلا زیارت به هم کوي او هلته به څوک بیا زړه نه ښه کوي چې د کلا څنګ سیمو ته د غصب ګواښ وکړي.

څو ورځې وړاندې د هلمند د اطلاعات او کلتور رئیس په یو سیمه ییز تلویزیون کې مېلمه وو، هغه وویل څو وار د دې کلا د ساتنې او رغونې لپاره کابل ته ورغلی یم، مرسته کوونکو موسسو او د کلتور وزارت راته لوی پلمه دا کړې چې هلته امنیت ناسم دی، ځکه دوی نه شي کولی د دغې کلا ځینې برخې ورغوي.

پوښتنه دا ده چې د کلا سره د امنیت څه؟

که د مخالفو ډلو لخوا دغو شتمنیو ته ګواښ پېښ وای نو ولې په تېرو وختونو کې دا کلاوې له منځه نه تلې او د خاور سره نه یو کېدې؟



دویمه خبره دا ده چې دغه سیمه له بشپړ امنیت برخمنه ده، له کابله چې هر لوړ پوړی چارواکی راشي د هلمند ځایي چارواکي یې یو ځل بست کلا ته د طواف لپاره ور ولي، خو ولې هغه سیمه چې د پېړیو پېړیو عظمتونو، شهامتونو، ویاړونو شاهده وه پاملرنه نه ورته کیږي؟

د هلمند د کلتور ریاست کمزوری دی که رښتیا هم د کابل اداره ځانته نا امني پلمه ګرځولې ده!!؟؟

زموږ د کلتور اصلي برخه همدغه شتمني ده، يوازې په تشو خبرو، هوايي وياړ او په دروغجنو لاپو کلتور نه شي ساتل کېدی، موږ په لوی لاس پر خپل تاريخ خاورې امباروو او بيا ګيله له نورو کوو.

که د کلتور رياست او وزارت کلا نه شي رغولی، نو دومره خو دې وکړي چې څنګلوري سيمې دې يې له غصب وژغوري، د خپلسرو کېندنو مخه دې ونيسي او د شته ګواښونو کچه راټيټه کړي.

که داسې بېغوره وو نو په نږدې کلونو کې به موږ د بست کلا ونه لرو، بيا به هوايي وياړ هم نه شو کولی چې موږ د بست په څېر لرغوني کلاوې لرو، راتلونکي نسل ته به يې فقط نوم پاتې وي او د کلا د خاورو له ډېرۍ به هم خلکو د خپل کور دېوالونه جوړ کړي وي.